# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۱ وږی ۱۴۰۱ هـ ش | ۱۵ صفر المظفر ۱۴۴۴ هـ ق | ۱۲ سپتمبر ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۱٦)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

# د هيواد ولايتونو ته د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضات حفظه الله د سفرونو راپور

## د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات سمنګان ولايت ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) حفظه الله ولايتونو ته د سفر په دوام تېره پنجشنبه (۱۴۴۴/۲/۴ هـ ق) نېټه د اولس د ستونزو څخه د خبرېدو او هغه ته د حل لارو پيداکولو په موخه سمنګان ولايت ته سفر وکړ.

شيخ صاحب حفظه الله د دغه سفر پر مهال د سمنګان ولايت د استيناف محکمې له رئيس، د دغه ولايت والي او نورو اداري رئيسانو، مسوولينو او عامو خلکو سره وکتل.

د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات له ولايتي مسوولينو او عامو خلکو سره جوړه شوې ناسته کې وويل، زما د سفر مقصد دا و چې زه د اولس له مشکلاتو ځان خبر کړم، او په ګډه د حل لار ورته پيدا کړو.

شيخ صاحب حفظه الله زياته کړه، تاسو موږ ته مشورې راکړئ، موږ ستاسو مشورو ته ډېر ضرورت لرو، که په ولايتي محاکمو کې کوم مشکلات وي هغه زموږ سره شريک کړئ.

د سترې محکمې رئيس روښانه کړه چې د ټول اولس په ځانګړې توګه علماء کرامو مشکلات به موږ ورحل کوو، مسوولين به هيڅکله د اولس د مشکلاتو په هوارې کې غفلت ونه کړي؛ بلکې دوی په اخلاص سره خدمت کوي.

شيخ صاحب حفظه الله مسوولينو ته په خطاب کې وويل، کوم مسول ته چې وظيفه سپارل شوې وي کوښښ دې وکړي چې په ښه ډول يې ترسره کړي، وخت په وخت دې له علماوو سره مشورې کوي.

## د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات بلخ ولايت ته سفر وکړ

د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات شيخ عبدالحکيم (حقاني) حفظه الله د قضائي پلاوي په مشرۍ چې د سترې محکمې قضائي معاون محترم شيخ محمدقاسم (راسخ) هم په کې ګډون درلود په ۱۴۴۴/۲/۶ هـ ق نېټه بلخ ولايت ته سفر وکړ.

د سترې محکمې رئيس محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) حفظه الله او ورسره مل پلاوي بلخ ولايت ته د دغه سفر پر مهال د ياد ولايت د استيناف محکمې د غونډو په تالارکې د بلخ د محاکمو له مسوولينو، والي، او نورو ولايتي اداري رئيسانو او مسوولينو سره ناسته وکړه.

په ياده ناسته کې چې د سترې محکمې د قضائي معاون محترم شيخ محمدقاسم (راسخ) په مشرۍ جوړه شوې وه د بلخ د استيناف محکمې عمومي رئيس مولوي محمد يوسف (ابوالوفا)، د بلخ ولايت والي الحاج مولوي قدرت الله (ابوحمزه)، د استنياف د ديوانونو رئيسانو، مفتيانو او محررينو، د شهري محکمې اړوند ديوانونو رئيسانو ګډون درلود.

په ياده غونډه کې چې د کلام الله مجيد د څو آياتونو په تلاوت پيل شوه، د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات شيخ عبدالحکيم (حقاني) حفظه الله هر اړخيزه وينا وکړه وويل، اسلامي نظام د الله(جل جلاله) له لوري ستر نعمت دی او د الله (جل جلاله) د دغه نعمت د شکر اداکول زموږ د ټولو مسووليت او وجيبه ده.

شيخ صاحب حفظه الله په خپلو خبرو کې د ناستې ټولو ګډونوالو ته د دارالافتاء رياست د جوړولو اطمينان ورکړ، د صادره او وارده په تړاو يې د ناستې ګډونوالوته وضاحت ورکړ.

د سترې محکمې رئيس شيخ صاحب حفظه الله د ناستې ګډونوالو ته ټينګار وکړ چې په خپلو ورځينو چارو کې د سترې محکمې له عالي مقام څخه صادر شوي متحدالمآلونه او لارښوونې په ښه توګه عملي کړي.

دغه راز شيخ صاحب حفظه الله د وثايق مخزن آمريت د اداري پر مختګ د لارو چارو په اړه تفصيلي خبرې وکړې او د ناستې له ګډونوالو سره يې په دې اړه لازمې لارښوونې او مشورې شريکې کړې.

وروسته د سترې محکمې قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) غونډې ته وينا وکړه، د شرعي احکامو تطبيق يې د ټولنې د بقا او اصلاح لپاره خورا مهم و بلل.

دغه راز نوموړي هره مياشت کې يو ځل د اداري او قضائي ناستو د جوړېدو د اهميت او اهدافو په اړه د ناستې ګډونوالو ته تفصيلي خبرې وکړې وويل، د داسې غونډو جوړول زموږ د اداري چارو د سمون، د قضائي مسايلو اړوند استهداءګانو ته د رسېدو لپاره ډېر زيات اهميت لري.

دغه راز د استيناف محکمې عمومي رئيس مولوي محمد يوسف (ابوالوفاء) غونډې ته په خپلو خبرو کې له مراجعينو سره د ښه چلند تر څنګ په اجراآ توکې پر شفافيت او حاضرۍ ته د پابندۍ په اړه لازمې لارښوونې و کړې، د ناستې ګډونوالو ته يې توصيه وکړه چې له بنديانو سره په شرعي اصولو برابر چلند وکړي.

همدا راز د غونډې په دوام کې د قضائي امورو اړوند موضوعاتو د بحث تر څنګ د قضائي امورو پر و ړاندې د شته خنډونو او ستونزو د حل او د کارونو د بهبود او نظم په اړه مشورې ترسره شوې.

پر دې سر بېره د ديوانونو رئيسانو هر يو مولوي عبدالسلام (مظهري)، د امنيت عامه رئيس او د ديوان جزاء رئيس شيخ فريدالدين (حقاني) په خپل نوبت سره شته مشکلات شريک کړل،

د محترم قاضی القضات صاحب حفظه الله له لوري ټولو مسايلو او مشکلاتو ته شرعي حللارې و لټول شوې ترڅو په راتلونکي کې مو کارونه له ځنډ سره مخ نشي.

ناسته د محترم قاضي القضات شيخ عبدالحکيم (الحقاني) حفظه الله لخوا د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده. پاتې برخه ۴




**د ښځو زده کړه او ښوونه**
**لومړۍ برخه**

د ښځو د زده کړې او ښوونې په اړه دوې خبرې دي، لومړی خپله د ښځو ښوونه او زده کړه ده او دوهم د ښځو د زده کړې او ښوونې کيفيت دی.
لومړۍ خبره کې چې د ښځو د زده کړې او ښوونې حکم دی، د دې جواز کې هيڅ شک نشته؛ بلکې پر ښځو د هغه څه زده کړه واجب ده دکوم څه ترسره کول چې پرې واجب وي او د هغه څه زده کړه پرې مستحب ده، دکوم څه زده کړه چې پرې مستحب وي.
په دې اړه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: « د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده»( رواه البخاري). ياد حديث شريف کې د مسلمان لفظ ذکر شوی دی، چې مسلمان عام دی، که نارينه وي او که ښځينه پر دواړو د علم زده کړه فرض ده.
او همدارنګه د ښځو زده کړه او ښوونه د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وخت کې هم موجود وه او خپله رسول الله صلي الله عليه وسلم به ښځو ته د دوی اړوند ديني مسائل ور ښوول.
او د ابو سعيد خدري رضي الله عنه يو روايت چې بخاري را نقل کړی دی، وايي: چې ښځو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته وويل، چې تاسو زيات خلکو مصروف کړي ياست او زيات وخت خلک در سره وي، نو زموږ لپاره هم يوه ورځ وټاکه، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم هم ورځ ورته وټاکل او په هغه ورځ کې به يې د دوی سره ملاقات کاوه، نصحيت به يې ورته کاوه او اوامر به يې ورته بيانول...
[ رواه البخاري، حديث شمېره(۱۰۱)، باب: هل يجعل للنساء يوم على حدة في العلم؟]
اخذليک: الإمارة الإسلامية و نظامها، صفحه ۲۴۸/ تأليف: قاضي القضات شيخ الحديث عبد الحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبد الرحيم راشد

## په اداري چارو کې د شفافیت او چټکتیا لپاره د سترې محکمې د اداري رئیسانو ترمنځ ناسته ترسره شوه

په (۱۴۴۴/۲/۲ هـ ق) نېټه په اداري چارو کې د شفافیت او چټکتیا او په ټاکلي وخت د مراجعینو او اداري کارکوونکو ستونزو ته د رسېدو په موخه د سترې محکمې د اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه.

یاده ناسته چې د سترې محکمې د اړوند مرکزي ریاستونو (د سترې محکمې د مقام دفتر ریاست، پلان او پالیسۍ ریاست، مالي او اداري چارو عمومي ریاست، مالي او حسابي چارو ریاست، د استخدام ریاست، اداري چارو ریاست، د بشري سرچینو عمومي ریاست، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست او د اداري معاونیت د دفتر ریاست ) رئیسانو او استازو په ګډون درلود د سترې محکمې د اداري معاون شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په وینا پیل شوه.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک حقاني صاحب د ناستې ګډونوالو ته په اداري چارو کې پر شفافیت ، او صداقت ټینګار وکړ او په چارو کې د چټکتیا او پرمختګ په موخه یې د دغه ډول ناستو جوړول مهم وبلل.

محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په خپلو خبرو کې وویل، هېڅ اداري مسوول باید له خپل موقف څخه د شخصي ګټو د ترلاسه کېدو په موخه ناسمه استفاده ونه کړي.

نوموړي پرېکړه وکړه چې د سترې محکمې له اداري چارو څخه د خلکو د شکایتونو د اورېدو او یادو شکایتونو ته په اصولي توګه د رسېدو په موخه به یو مشخص پلاوی وټاکي.

د اداري چارو د ښه او پر وخت ترسره کېدو په اړه د سترې محکمې د محترم اداري معاون تر هر اړخیزې وینا وروسته د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو رییسانو او استازو د موضوع په اړه خپل وړاندیزونه او نظرونه شریک کړل، د ناستې پر جوړېدو یې خوښي څرګنده کړه او د دغه ډول ناستو جوړېدل یې مهم او ضروري وبلل.

په یاده ناسته کې پرېکړه وشوه چې له دې وروسته به هره میاشت کې یو ځل د اداري معاونیت د دفتر د ریاست لخوا د ترتیب شوې مشخصې اجنډا په تړاو اداري ناسته جوړېږي.

دغه ناسته د یادې موضوع په اړه تر هر اړخیزو خبرو وروسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د افغانستان اسلامي امارت د قضائیه قوې د ۱۴۴۳ هـ ق کال د اجرااتو لنډ راپور!

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مسوولینو د رسنیو په مرکز کې د حساب ورکولو پروګرام په جریان کې د سترې محکمې د تېر یوه کال د اجراآتو لنډ راپور چې خلاصه یې په لاندې ډول ده، شریک او د خبریالانو پوښتنې یې ځواب کړې.

✓ د قضائیه قوې د ۱۴۴۳ هـ. ق کال تشکیل ۵۴۰۸ بستونو ته رسیږي چې په دې کې ۲۶۰۰ قضایي بستونه، ۱۰۷۲ اداري بستونه او ۱۷۳۶ د خدماتي کارکوونکو بستونه شامل دي.

✓ په دغه موده (۱۴۴۳ هـ ق) کال کې د سترې محکمې عالي شورا (۵۶) عادي او فوق العاده غونډې ترسره کړې دي، چې لاندینیو مواردو ته په کې رسېدنه شوې ده.

✓ د تجدید د نظر د عرایضو د څېړنې په برخه کې: ۵۵ موضوعاتو ته رسېدنه شوې.

✓ د صلاحیتونو په برخه کې اختلافات : په دې برخه کې ۱۴ حقوقي، حزائي، تجارتي او فامیلي دوسیو ته رسېدنه شوې.

✓ د استهداګانو په برخه کې: ۶۳۵ استهداګانې د شرعي اصولو په رڼا کې ځواب شوې دي. له دې ډلې ۲۸ موضوعګانې چې عامه بڼه یې درلوده د شرعي اصولو د ښه تطبیق په موخه د متحدلمآل په شکل ټولو محاکمو ته لېږل شوې دي.

✓ د محکمو د تبدیلۍ په برخه کې: د ۸۳۰ جزائي، مدني، تجارتي او فامیلي موضوعاتو په اړه جلا جلا تصویبونه صادر او لازم تصامیم نیول شوي.

**د درې ګونو محکمو اجراآت:**

په ۱۴۴۳ هـ ق کال کې (۳۳۵۶) جلده دوسیې د سترې محکمې اړوند دیوانونو، ۱۱۷۶۲ جلده دوسیې د استیناف محکمو او ۶۵۳۱۹ جلده دوسیې د مرکز او ولایاتو د لومړنیو محکمو چې ټولې ۸۰۴۳۷ جلده دوسیې کیږي په دوران کې وې . د دې جملې څخه ۳۵۰۹۲ دوسیې په ابتدایي مرحله کې ۷۱۵۶ په استینافي مرحله کې او ۱۳۸۲ دوسیې د تمیز په مرحله کې حل و فصل شوې دي او ۴۳۶۳۰ دوسیې فعلاً درې ګونو محکمو کې تر کار لاندې دي .

**راپور اخستل او داجراآتو څخه څارنه :**

د محاکمو کار او فعالیت راپور د ویډیویي کنفرانسونو له لارې تنظیم او د تېر کال په جریان کې د هیواد د زونونو د محکمو راپور اخستلو سیستم او همدارنګه د محکمو د فعالیتونو را پور د سترې محکمې د عالي شورا په غونډو کې اورېدل شوی دی. همدا ډول د یوه کال په جریان کې (۴۱) ځلې د پلان سره سم عادي تفتیش د مرکز او ولایاتو د محکمو د اجراآتو راپور اخستی دی چې (۷۳) موضوعات د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس په اقتضائي توګه بررسي شوي دي.

**د قاضیانو مقررول او بدلول :**

د قاضیانو د مقررېدو پروسه داسې تنظیم شوېده چې هغه علماء چې د قضاء او افتاء په برخه کې کاري مخینه او تخصصي روزنه ولري او په تقوا،اخلاص، امانت دارۍ او رښتینولۍ باندې سمبال وي، د هغوی څخه لومړی تحریري اوبیا تقریري ازموینه د یوې شفافې او رڼې پروسې له لارې اخیستل کیږي.

د بریالي شوي قاضي معلومات بیا د سترې محکمې د عالي شورا سره شریک کیږي، په وروستۍ مرحله کې یې د مقررۍ پیشنهاد د مشرتابه مقام ته استول کیږي.

**ارتقاء ظرفیت**

د (۱۰) په شمېر علمي او روزنیزو پروګرامونو ( ماستري، د نویو ګومارل شویو رئیسانو له پاره د لومړنۍ رهبرۍ مهارتونه، د کمپیوټر لومړنۍ زده کړې، د مسلکي کړنو او سلوک کړنلارې، اداري مراسلات ، حقوقي او جزائي اندراجونه) د قضائیه قوې منسوبینو ته جوړ شوي دي چې د ګډون کوونکو شمېر یې (۷۷) تنو ته رسیږي.

د رئیسانو د وړتیاوو د لوړونې په موخه د رهبرۍ تر عنوان لاندې د روزنیز ورکشاپ جوړول، کوم چې د ملکي خدمتونو د اداري اصلاحاتو ادارې د ملکي خدمتونو انستیټوټ د روزنې په مرکز کې دایر شوی و.

**د اداري فساد سره مبارزه:**

د اداري فساد سره د مبارزې په لړ کې ، د سترې محکمې د تفتیش ریاست لخواد ( ۱) قاضي ، ۳ اداري کارمندانو، محررانو او ۶ تنه قضائیه قوې ته غیر منسوب کسانو په ګډون ۱۵ تنه د بډو اخیستو، دوکې، جعلي اسنادو کارولو او د رسمي اسنادو د غلا په تور نیول شوي دي چې اړوند دوسیې یې د لومړنیو تحقیقاتو وروسته په ټاکلي وخت او د شرعي اصولو په رڼا کې د عدلي تعقیب لاندې نیول شوي دي .

**د قضایاوو د مدیریت سیستم:**

د ثبت د سیستم له لارې په مرکز او ولایاتو کې په جزائي برخه کې (۵۴۴۹) قضیې او په حقوقي برخه کې (۸۷۵۹) قضیې ثبت شویدي چې په مجموع کې (۱۳۳۰۸) قضیو ته رسیږي ثبت شوې دي چې د قضایاوو د ثبت دا لړۍ همداسې دوام لري.

**نشرات او عامه پوهاوی:**

✓ د قضائیه قوې فعالیتونه خپل پر وخت د ټولنیزو رسنیو لکه، ټویټر، فیسبوک او ویب سایټ له لارې هیوادوالو ته وړاندې شوي دي او په کتبي شکل د میزان جریدې ۱۵ ګڼې چاپ شوې چې د قضائیه قوې ډېری فعالیتونه پکښې نغښتي دي.

✓ همدا راز بیلا بیل ویډیویي کلیپونه او مرکې د قضائیه قوې له مسؤلینو سره او عام ولس سره چمتو او نشر شوي دي.

**د قضائي علني جلساتو ترسره کول:**

قضائي علني جلسات د هیواد په زیاترو محکمو کې رامنځته شوي ،په ځانګړې توګه هغه محکمو کې چې د جلسو تالار ولري، او د شرعي اصولو پر بنسټ ټولې قضائي جلسې په علني شکل د خلکو، رسنیو، او محصلینو په شتون کې ترسره شوي .

**د وثایقو د محصول دلغوه کیدو په اړه:**

✓ د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د فرمان په اساس د بهادارو اسنادو، د مدني او سوداګریزو فیصلو محصول، د قباله جاتو محصول، د قضائي چوپړونو د وړاندې کولو فیس، د عرایضو ثبتولو باندې چې کوم محصول اخیستل کېده، هغه لغوه اعلان شوه او یاد خدمات اوس ټولو هیوادوالو ته مفت اجراء کیږي.

✓ د یادولو ده چې قضائیه قوې (پنځه لس زره څلور سوه لس )جلده نکاح خطونه چاپ او په وړیا ډول یې ګرانو هیوادوالو ته ویشلي دي.

**د عادي او انکشافي بودیجې په برخه کې:**

- د ۱٤٤۳ ه ق کال له پاره د بودیجې د کسر له وجې قضائیه ځواک ته (اته سوه دوه نوي زره او دیار لس افغانۍ) انکشافي بودجه ورکړل شوې وه.
- د ۱٤٤۳ ه ق کال له پاره قضائیه ځواک ته (درې ملیارده، څلور سوه دوه اویا زره دوه سوه، لس) افغانۍ عادي بودجه ورکړل شوې وه.

ستره محکمه په پلان کې لري چې د ۱٤٤٤ ه ق کال له پاره د ولایاتو د اته ښاري او دوولس ولسوالیو محکمود ودانیو د رغولو سربېره د سترې محکمې له پاره هم اساسي ودانۍ د دارالامان په سیمه کې جوړه کړي چې د ټولو اساسي ودانیو اټکل شوې بودیجه به څه د پاسه څلور ملیارده افغانۍ وي.

- په دې وروستیو کې دسترې محکمې اداره وتوانیدله چې د چین او اندونیزیا د سفارتونو د باصلاحیته نماینده ګانو سره د یادې بودیجې د تمویل په موخه غونډې ترسره کړي چې له ښه مرغه دوی هم موافقه کړېده چې د تفاهم نامې د لاسلیک څخه وروسته په راتلونکو کالو کې د یادو پروژو عملي چارې پیل شي.

## جلسهٔ قضائی تحت عنوان (بیان نمودن خلاصهٔ از سیمنار ۱۲ روزه) در محکمهٔ مرفعهٔ کاپیسا تدویر یافت

روز دوشنبه مورخ ۱٤٤٤/۲/۲ ه ق جلسهٔ قضائی تحت عنوان(بیان نمودن خلاصهٔ از سیمینار ۱۲ روزه) در مقر ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا تدویر یافت.

این جلسه در حالی تدویر شد که همه قضات محترمین محکمهٔ مرافعه و شهری ولایت کاپیسا در آن حضور داشتند.

جلسه با تلاوت چند آیات کلام الله شریف توسط مولوی عبدالمنان مفتی دیوان مدنی استیناف آغاز شد؛ بعداً مولوی میر آقا مشهور به ذبیح الله رئیس محکمهٔ مرافعه در مورد موضوع ذکر شده سخنرانی کرد و گفت، هدف اصلی نشست امروزی بیان نمودن فشرده ای از سمینار ۱۲ روزهٔ که در آن اشتراک ورزیده بودم و آن را به موفقیت به اتمام رسانده ایم، است.

در این سمینار قضائی اساتید مشهور و قابل قدر با پای تدریس نشسته بودند و به گونهٔ توضیحی، پرسش پاسخ و عملی به درس پرداختند که به گونهٔ خلاصه موضوعات ذیل را به بحث گرفتند:

- از مسئول بودن قضات گرامی صحبت نمودند و گفتند که قضات هم نزد خداوند (جل جلاله) و هم نزد مردم مسئول می‌باشند؛ پس بیسار متوجه باشند، باید قضات محترمین ملبس به لباس نیک و اخلاق نبوی باشند و در فعالیت های خویش نهایت تواضع و در افعال خویش نهایت اخلاق حسنه و سلوک نرم پیشه گیرند و نیز ظاهر و باطن آراسته با لباس شریعت اسلامی باشند.
- از حاضری صحبت کردند و تأکید ورزیدند که مطابق مکتوب متحدالمآل که در مورد ساعت حضورکاری و ختم کاری مواصلت ورزیده‌است باید عمل کرد.
- هر آن اجراآت که در محاکم صورت می گیرد باید بر مبنی اصولنامه و رهنمود که همه به محاکم مواصلت می ورزند صورت گیرد.
- همچنان اشاره شد که برای قضات که در محاکم ولایت هستند بعد از ختم این سمینار دو استاد همرای رئیس مرافعه و شهری محکمه مربوطه سیمینار برگزار می گردد تا آنها نیز از این سیمینار مستفید شوند.
- بعد از بیان موضوعات فوق در ادامه محترم مولوی صاحب عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمه شهری سخن زد و گفت که لازم است قضات بایکدیگر در عرصهٔ پرسش پاسخ و افهام تفهیم همکار باشند تا باشد دوسیه و فیصله‌ها را بهتر و خوبتر حل و فصل گردد و حق احدی ضایع نشود.

در اخیر مولوی رحمت الله (مظهری) رئیس محکمهٔ دیوان جزاء استیناف دعای اختتامیه جلسه کرد و جلسه خاتمه یافت.

## گزارش جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بدخشان

به تاریخ ۱٤٤٤/۱/۲۰تحت ریاست الحاج محترم مولوی کفایت الله «عزام»رئیس دیوان جزاء و سرپرست محکمهٔ مرافعه به اشتراک تمام رؤسا، قضات و پرسونل اداری محکمهٔ مرافعه و ریاست محکمهٔ شهری دایر گردید.

جلسه به تلاوت چند از آیات قرانکریم آغاز گردید؛ سپس روی موضوعات شامل اجندای جلسه ذیلاً بحث وتبادل نظر صورت گرفت.

۱. سرپرست محکمهٔ مرافعه در مورد خطیر و مهم بودن وظیفهٔ قاضی و عظمت قضاء در پرتو احکام شرع وقانون صحبت مفصل نموده افزود که قضات محترم تلاش نمایند تا در فیصله ها و اجراات یومیه شان طبق احکام شریعت اسلامی در میان متخاصمین اعتدال را رعایت نموده از مسؤولیت دنیا وآخرت خود را نجات دهند.

۲. در امور قضاء هیچ نوع وساطت و دخالت جای ندارد و قضات محترم سعی نمایند تا برای وساطت کننده‌گان، دلالان و کمیشن‌کاران فرصت ندهند که از آدرس محکمه و قضات استفاده سوء نمایند.

۳. طبق احکام شرعی با مراجعین رویهٔ سالم نموده، برابری و اعتدال در مرحلهٔ محاکماتی رعایت گردد.

٤. شکلیات دوسیه طور اصولی ترتیب و تنظیم گردد که در آن ساده سازی رعایت گردیده مطالب طور واضح تحریر گردد و از طویل نویسی اجتناب به عمل آید.

٥. تعدادی از مراجعین از تاخیر بررسی دوسیه‌های نسبتی شان شکایت داشتند، در جلسه متذکره عوامل وعلل تاخیر دوسیه ها بررسی گردید در مورد مشارکین جلسه عوامل ذیل را مطرح نموده‌اند.

٦. تراکم دوسیه‌ها در دیوان‌های مدنی محکمه ابتدائیه و مرافعه سبب تأخیر در بررسی قضایا گردیده است.

۷. عدم جلب مجلوبین در میعاد معینه توسط پولیس.

۸. عدم حضور مدعی علیه.

۹. کمبود پرسونل قضائی و اداری در دیوان‌ها این عواملی است که از طرف مشارکین جلسه مطرح گردید و سرپرست محکمهٔ مرافعه اظهار نمود که بعضی موارد فوق با رعایت مواد اصولنامه اداری حل میگردد و در مورد بعضی موارد دیگر تفاهم با مسؤولین مربوط حل و فصل می‌نمایند.

جلسه با دعائیه خیر و فلاح توسط رئیس دیوان جزاء محکمهٔ شهری خاتمه یافت.

# رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار از محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری تالقان بازدید به عمل آورد

به تاریخ ١ /٢ /١٤٤٤ هـ ق الحاج مولوی محمد صابر«حنفی» رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت تخار به دفتر کاری محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری تالقان تشریف برده اجراآت قضائی و اداری آن محکمه را از نزدیک بررسی و مشاهده نموده است.

رئیس محکمهٔ استیناف پس از بررسی و مشاهدهٔ اجراآت قضائی و اداری محکمهٔ ذکر شده جهت تسریع روند اجــراآت با رئیس محکمهٔ شهری، رؤسای دواوین و عموم منسوبین قضائی و اداری آن محکمه نشست تدویر یافت.

ابتدأ محترم «حنفی» سلام و تمنیات نیک فضیلتمـــآب شیخ الحدیث و القرآن قاضی القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان را به حاضرین جلسه تقدیم نموده و از آموخته‌های سیمینار ١٥ روزه که در مرکز کابل دائر گردیده بود ذیلاً تأکید کرد.

١. کتاب اداب القاضی را مطالعه نموده اقوال فقهای احناف، رفتار و سلوک قضأ را مراعات نمائید.

٢. در اجراآت خویش به دوسیه‌های اولویت بخشید که تاریخ وارده آن مقدم باشد.

٣. بعد از فیصله موضوع تماماً اوراق دوسیه به قید فهرست ترتیب نموده به مرجع مربوطه ارسال دارید.

٤. مکتوب‌های معلوماتی و پاسخ طلب که از مقام ستره محکمه مواصلت می‌ورزد؛ بدون معطلی پاسخ ارایه نمائید.

٥. راپورهای اجراآت خویش را قبل از تکمیل تاریخ غرض اجراآت بعدی ارسال دارید.

٦. طبق طرزالعمل تحریر فیصله جات رئیس محکمهٔ مرافعه و رئیس محکمه شهری در جلسات قضائی اشتراک نموده و در فیصله ها مهر و امضأ نمایند.

٧. در فیصله‌ها صرف رئیس دیوان و رئیس محکمه شهری مهر و امضأ نمایند و بس.

٨. تطبیق فیصله‌ها از صلاحیت ریاست محترم عالی تمیز مرکز می‌باشد.

٩. به اثر عریضه عارض در موضوعات جزائی فوراً متهم یا معروض علیه توقیف داده نشود؛ بلکه تحقیق لازم صورت گیرد.

١٠. اقرار اجباری از طریق حوزه‌های امنیتی و جنائی مدار اعتبار نبوده؛ بلکه اظهارات و اقرار متهم یا مظنون در نزد قاضی مدار حکم و اعتبار شرعی دارد.

١١. چون عریضه مبتدا و اساس دعوی را تشکیل میدهد؛ لذاعریضه نویسان را یک روز دعوت نموده درمورد تحریر عرایض رهنمائی و هدایات لازم داده شود.

جلسه با دعائیه خیر وفلاح کشور پایان یافت .

# د نورستان د استيناف محکمې اداري ناسته ترسره شوه

د نورستان ولايت د استيناف محکمې په تالارکې د دې محکمې د رئيس مفتي عبيدالله (سليم) په مشرۍ د قضاتو او اداري کارکوونکو ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د مرافعه محکمې ټولو قضاتو او اداري کارکوونکو ګډون درلود.

د نورستان ولايت د مرافعه محکمې رئيس مفتي عبيدالله (سليم) په دې ناسته کې د قضا د ارزښت په تړاو خبرې وکړې او قضات يې خپلو دندو ته متوجه کړل.

دغه راز د استيناف او شهري محاکمو قضاتو او اداري کارکوونکو ته ټينګار وشو چې سيرت او صورت د شريعت مطابق برابر کړي، د حاضرۍ پابندي وکړي.

د استيناف محکمې رئيس زياته کړه، که موږ په اخلاص سره خپله دنده ترسره کړو يو طرف ته به موږ ته الله(جل جلاله) اجر راکړي بلخوا به مو خپله اسلامي اوشرعي وجيبه په صحيح توګه سرته رسولې وي.

ياده ناسته د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.

# د هلمند د استيناف محکمې رئيس د دغه ولايت له يو شمېر اداري مسوولينو سره وکتل

**د قضايای امارت له آمر سره د ليدنې راپور**

د هلمند ولايت د استيناف محکمې رئيس مولوي ابوسعيد «الغزنوي» د ياد ولايت د عدليې رياست د قضايای امارت له امر او نورو کارکونکو سره وکتل.

د عدليې رياست د قضايای امارت امر په دې ناسته کې د ځينو موضوعاتو په په تړاو پر هر اړخيزه خبرو سربېره د استيناف محکمې رئيس ابوسعيد (الغزنوي) ته د خپلو مربوطه کارونو په رابطه معلومات ورکړل، په اړوند چاروکې يې د بشپړې همکارۍ ژمنه وکړه.

د استيناف محکمې رئيس ابوسعيد (الغزنوي) د دوی له همکارۍ څخه مننه وکړه او پوره ډاډ يې ورکړ چې د اسلامي امارت د اصولو مطابق به اجراآت کوو.

نوموړي زياته کړه، موږ به ان شاءالله په هره موضوع کې له پوره تحقيق وروسته د اسلامي امارت د اصولو سره سم خپلې فيصلې کوو.

هغه زياته کړه که په کومه موضوع کې درته ستونزې موجودې وي مونږ به يې په حل کولو کې پوره هڅه او مرسته درسره کوو.

د استيناف محکمې رئيس وويل، اسلامي امارت د ټولو افغانانو ګډ کور دی او ملت د وطن د آزادۍ او د اسلامي احکامو د تنفيذ لپاره پوره قرباني ورکړې نو بايد چې د دوی له قربانيو او د شهيدانو له وينوسره خيانت ونشي.

**د استيناف څارنوالۍ له رئيس سره ناسته**

د هلمند ولايت د استيناف محکمې رئيس مولوي سراج احمد(ابوسعيدالغزنوي) په ١٣/محرم الحرم/١۴۴۴ هـ ق نېټه د يادې محکمې د غونډو په تالارکې د استيناف څارنوالۍ له مسؤول مولوي هجرت سره وکتل.

په دې غونډه کې د استيناف محکمې د جزاء ديوان رئيس مولوي اغامير(حنفي)، مفتي، محرر، د امنيت عامه ديوان ر ئيس مولوي محمد او د ښاري محکمې رئيس مولوي جليل احمد (هلال) ګډون کړی و.

په ياده ناسته کې پر ګڼو موضوعاتو په ځانګړې توګه بنديانو په اړه خبرې وشوې.

د غونډې ګډون کوونکو په ګډې همکارۍ ژمنه وکړه او ناسته د دعاپه ويلو پای ته ورسېده.

# گزارش آغاز کار بررسی زندانیان بی سرنوشت درزندان ولایت بادغیس

حسب هدایت (٦٠٥) مورخ ١٤٤٣/١١/١٨ آمریت تحریرات ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان و بالاثر هدایت (٢٧٧) مورخ ١٤٤٣/١١/١٣ ریاست دفتر مقام امیرالمومنین شیخ صاحب حفظه الله به منظور بررسی موضوعات زندانیان بی سرنوشت در زندان عمومی ولایت تحت ریاست مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس محکمه مرافعه جلسه برگزار شد.

در این جلسه که درمقر ریاست محکمه مرافعه تدویر یافت، مولوی محمد نبی مدیر جنائی قوماندانی امنیه، قاری بسم الله (شهید زاده) نمایندهٔ استخبارات و ملا سید باران (عدالتی) سرپرست مدیریت زندان اشتراک ورزیده بوده‌اند.

جلسه با آیات چند از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه پیرامون موضوع و طرزالعمل (١١) ماده دفترمقام امیرالمؤمنین حفظه الله صحبت نموده‌اند.

در این جلسه برای بررسی موضوعات زندانیان یک کمیته تشکیل و آغاز به کارنموده.

جلسه با دعائیه خیر و وفلاح کشور خاتمه یافت.

# د يو شمېر اداري مسوولينو سره د پکتيا ولايت د استيناف محکمې د رئيس د ليدنو راپور

**د څارنوالۍ له رئيس سره ليدنه:**

د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج عبيدالله (خالد) د دغه ولايت د استيناف څارنوالۍ له رئيس مفتي محمد نظيم (غزالي) سره وکتل.

په دې ليدنه کې د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې رئيس د ياد ولايت د استيناف څارنوالۍ له رئيس سره د سترې محکمې عالي مقام د هدايت سره سم د پکتيا ولايت د محبوسينو د اجناسو د تسليمولو، د تسليمۍ د مکتوبونو او طرزالعمل، د نظارت خونو او توقيف خونو د بنديانو، د محبوسينو د ناروغيو د درملنې، د عامي روغتيا رياست له نظر وروسته په ضمانت سره د ناروغو بنديانو د خوشې کولو، د ښځينه زندانيانو د دوسيو څېړلو ته د لومړيتوب ورکولو او يو شمېر نورو مهمو موضوعاتو په اړه تر خبرو او مشورو وروسته لازم تصميمونه ونيول شول او غونډه د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.

**د شپږو ولسواليو د نوو ټاکل شويو قضاتو، مفتيانواو محررينو سره ليدنه:**

د ١٤٤٤ هجري قمري کال د لومړۍ مياشتې په يوولسمه نېټه د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې رئيس الحاج مفتي عبيدالله (خالد) د پکتيا ولايت د شپږو ولسواليو سيدکرم، شواک، ګرده څېرۍ، وزي ځدراڼ، لجه منګل او د روحاني بابا له نوو ټاکل شوو قضاتو، مفتيانو او محررينو سره په خپل کاري دفترکې ليدنه وکړه.

ناسته د قرآنکريم په مبارکو آياتونو پيل او د مرافعه محکمې رئيس نوو ټاکل شوو قضاتو ته ښه راغلاست ووايه، او يادو قضاتو ته يې د محاکمو د قضايي او اداري چارو په برخه کې وضاحت ورکړ.

د استيناف محکمې رئيس د قضاء او د قاضيانو د مسؤوليت او منزلت په هکله يې درنو قضاتو ته نيکې خبرې وکړې، د خلکو سره د نېک برخورد او عادلانه چلند، خپلو منځو کې د ښه چلند، د قاضيانو، مفتيانو او محررينو د صلاحيتونو، د محاکمو(ابتدائيه، مرافعه او د تميز) د فيصلو او کړنو د سلسلو او اجراآتو په هکله يې اصولي او قانوني خبرې وکړې.

نوموړي د محاکمو د قضائي امورو (صورت د دعوی، دفع د دعوی، اعتراض، دفع د اعتراض، فيصله، شواهد، اسناد، مدارک قراين د شاهدانو د سري تزکيه او علني تزکيې په اړوند يې نوو ټاکل شوو قضاتو ته مفصل وضاحت ورکړ او هر يو يې جلا جلا شرحه کړ.

هغه د محاکمو په اداري برخه (د صادرې کتاب، د واردې کتاب، د رسيداتو کتاب، مکتوب، پيشنهاد، استعلام، استهداء) او د محاکمو د اداري اصولو په نورو برخو کې يې روښنايي واچوه او درنو قضاتو ته يې واضح او شرحه کړه.

د دعوی اقسام او د دعوی وخت يې بيان کړ.

درنو قضاتو ته يې سپارښتنه وکړه چې مظلوم ولس ته د زړه له تله په مينه او په لوړ احساس کار وکړئ، د مدعي اومدعي عليه ترمنځ عادلانه چلند کوئ، او د پرېکړې په وخت کې لوی الله (ﷻ) حاضر او ناظر وګڼئ او خپلې پرېکړې صادرې کړئ، په خپلو خبرو کې يې وويل چې د ولسوالۍ له نورو دولتي اراکينو سره نېک او په اصولو برخورد وکړئ او له خپلې وظيفې نه سوءاستفاده مه کوئ.

په ناسته کې يې د عبرت په ډول د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د حکومتدارۍ څو لنډې کيسې وکړې او د غونډې ګډونوالو ته يې وويل چې د افغانستان د مظلوم ولس سترګې تاسو ته پاتې دي، هيله او اميد يې تاسو ته دی، تاسو به د مظلوم همکاري کوئ او د ظالم د ظلم مخه به نيسئ.

د ناستې په پای کې يې د حاضرۍ د پابندۍ په هکله درنو قضاتو ته جدي سپارښتنې وکړې ترڅو قضات غير حاضري ونه کړي او خپلو دفاترو ته په وخت سره حاضر شي.

ناسته د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ٨**
**نېټه: ١۴۴۴/١/٢٦ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي ديوانونو د محترمو رئيسانو او د مرکزي قضائي رياستونو د رئيسانو صاحبانو په ګډون په تاريخ ١۴۴۴/١/۵ هـ ق چې د ١۴٠١ هجري لمريز کال د اسد مياشتې دولسمي نيټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصويب نمبر (٣) مورخ ١۴۴۴/١/۵ هـ ق په توسط د بعضي موضوعاتو په باره کې پريکړه وسوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک سي، په همدغه اساس ياد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک سوه چې په هغه کې ځوارلسمه موضوع داسي وه:

((د نظامي محاکمو، شهري او استيناف محاکمو او د تميزونو د رئيسانو صاحبانو د وظائفو د تعين په باره کې د مشرتابه محترم عالي مقام څخه د هدايت غوښتونکي يو.))

په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د ځوارلسمي فيصلې په اساس داسي هدايت وشو:((د نظامي محاکمو، شهري او استيناف محاکمو او د تميزونو رئيسان صاحبان قضائي حيثيت لري تر څو چې فيصله د رئيس لخوا تائيد شوې نه وي معتبره نه ده.

د نقض او رد په صورت کي که د رئيس امضاء نه وي پروا نه لري.

او هغه محاکم چې د قاضي څخه علاوه رئيس هم لري په نص الحکم کي دي د حکمنا و قضينا صيغه ليکي او کومې محکمې چې د قاضي څخه ما سوا جلا رئيس نه لري قضيتُ و حکمتُ دي ليکي.

د قضيې جريان به قاضي اوري او محرر به يې ليکي.

تر کتلو وروسته به د قضيې دغه ليکلی جريان مفتي ته ورکوي تر څو مفتي فتوی ورته پيدا او وليکي او هم به د دغه فتوی نمبر او تاريخ پر فتوی ليکي او خپله امضاء به پر وکړي.

تر هغه وروسته به قاضي د دغه فتوی په استناد حکم کوي او تر دغه وروسته به يې په آرشيف کي ساتي او په کي فيصله به يواځې قاضي او رئيس امضاء کوي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د ځوارلسمي موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فيصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

پاتې برخه ۴

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د هیواد ولایتونو ته د سترې محکمې...

### قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس حفظه الله جوزجان ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه الله ولایتونو ته د خپلو سفرونو په دوام تېره یکشنبه (۱۴۴۴/۲/۷ هـ ق) نېټه د یوه قضائي پلاوي په مشرۍ د قضاء برخه کې د موجوده ستونزو د حل په موخه جوزجان ولایت ته سفر وکړ.

محترم قاضي القضات حفظه الله د دغه سفر پر مهال د جوزجان د استیناف محکمې په تالار کې د مرافعه محکمې له رئیس الحاج عبدالوهاب (زاهد)، محترم والي او معاون والي، د استیناف، ښاري او ابتدایه محاکمو د دېوانونو رئیسانو، مفتیانو او محررینو، د عدلیې له رئیس او نورو اړوند اداري مسوولینو سره وکتل.

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه الله په یاده ناسته کې د محاکمې د اصولو په اړه خبرې وکړې وویل، حقوقي او جزائي قضیو ته دې د شرعي او حنفي فقهې د اصولو مطابق رسېدنه وشي.

محترم شیخ صاحب حفظه الله له عدلي او قضائي ارګانونو سره پر نېک تعامل ټینګار وکړ.

شیخ صاحب حفظه الله ولایتي مسوولینو ته په خطاب وویل، خپلې چارې په ښه ډول ترسره کړئ، تر څو هیوادوال له اسلامي امارت څخه راضي او خوښ وي.

محترم قاضي القضات حفظه الله ټینګار وکړ چې ولایت مقام دې له محاکمو سره همکاري وکړي، د قضاتو امنیت ساتنې ته دې جدي توجه وکړي تر څو قضات وکولای شي چې په ښه ډول عدالت تامین کړي.

یاده ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

### د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات فاریاب ولایت ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه‌الله او د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) د یوه قضائي پلاوي په ملتیا ولایتونو ته د سفر په دوام په ۱۴۴۴/۲/۸ هـ ق نېټه فاریاب ولایت ته سفر وکړ.

شیخ صاحب حفظه الله د دغه سفر پر مهال د فاریاب استیناف محکمې ریاست ته له تګ وروسته د دغه ولایت د مقام په تالار کې د مرافعه محکمې له رئیس، محترم والي، محترم معاون والي، د محاکمو له قاضي صاحبانو او د یاد ولایت له اوسېدونکو سره وکتل.

محترم شیخ صاحب حفظه‌الله د دې کتنې پر مهال قاضیانو او د ناستې ګډونوالو ته په خطاب هدایت او توصیه وکړه چې خپلې اړوند چارې دې پر ټاکلي وخت ترسره کوي.

د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات حفظه‌الله وویل، قضات باید د اسلامي شریعت او سترې محکمې د عالي مقام د هدایاتو او اوامرو مطابق د عدالت د تامین برخه کې خپل لوی مسوولیت په ښه ډول ترسره کړي، هڅه دې وکړي چې د مراجعینو دوسیو ته پر وخت اصولي رسېدنه وکړي او له خلکو سره دې ښه تعامل او غوره اخلاق وکړي، د مراجعینو له ځورولو څخه دې په جدي ډول ځان وساتي.

محترم قضات دې هر وخت هغه اصول، مقررې او متحدالمآلونه چې د سترې محکمې له لارې دوی ته استول کېږي په غور او دقت سره مطالعه او ځان دې پرې پوه کړي، هڅه دې وکړي چې محاکمو ته راجع شوو دوسیو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وکړي او تر اجراآتو وروسته یې اړوند مراجعو ته ولېږي.

شیخ صاحب حفظه الله زیاته کړه، محترم قضات باید په خپل منځ، او له نورو ادارو سره لازمه همغږي ولري.

د فاریاب ولایت د استیناف محکمې رئیس د سترې محکمې له محترم رئیس او قاضي القضات حفظه‌الله او ورسره مل قضائي پلاوي څخه دغه ولایت ته د سفر په پار مننه وکړه، د عالي مقاماتو د هدایاتو عملي کول یې حتمي او لازمي وبلل.

یاده ناسته د ګډونوالو له خبرو او وړاندیزونو اورېدو وروسته د خیر او فلاح په دعا پای ته ورسېده.

### د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات سرپل ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظ الله او د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمد قاسم راسخ حفظه الله د یوه قضائي پلاوي په مشرۍ ولایتونو ته د خپل سفر په دوام په ۱۴۴۴/۲/۹ هـ ق نېټه سرپل ولایت ته سفر وکړ او د ولایت په مقام کې یې د یاد ولایت اړوند محاکمو له قضاتو او نورو مسوولینو سره ولیدل.

په دغه لیدنه کې لومړی د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه الله قضاتو ته په خطاب کې وویل: ((ډېر ښه وشول چې تاسو مې له نږدې ولیدی او له یو بل سره مو له نږدې ملاقات وشو.))

شیخ صاحب حفظه الله زیاته کړه: ((د دغه سفر موخه داده چې تاسو وکولای شی له نږدې خپلې ستونزې له موږ سره شریکې کړی او موږ د یادو ستونزو د حل لپاره درته مناسبې سپارښتنې او هدایات وکړو.))

محترم حقاني حفظه الله د دغه ولایت د محاکمو اړوند قضاتو ته په اشاره وویل، تاسو ډېر لوی مسوولیت په غاړه لرئ، د محاکمو له قضاتو څخه هر څوک تمه لري چې د دوی په وسیله خپل حقونه ترلاسه کړي. په اصل کې د دوی دغه تمه په ځای ده، ځکه موږ د محاکمو په وسیله خپل حقونه ترلاسه کولای شو، نو ځکه قضاتو ته ضروري ده چې له خلکو سره ښه اخلاق وکړي تر څو خلک په ځانګړې توګه مظلومان خپل حقونه ترلاسه کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ((انصروا الظالم والمظلوم))، یعنې له مظلوم سره د نصرت مانا داده چې دوی خپلو حقونو ته ورسېږي.

محترم شیخ صاحب حفظه الله زیاته کړه، که موږ توجه وکړو په تېرو ۴۳ کلونو کې پر ملت بېلا بېل ظلمونه شوي دي، زموږ تقاضا داده چې له دې وروسته په ملت له هېڅ لارې ظلم ونشي.

نوموړي زیاته کړه، بله موضوع داده چې په خپلو پرېکړو کې حکمت په نظر کې ونیسئ، د عثماني خلافت پر مهال یو مدعي او مدعي علیه د کومې موضوع پر سر د دعوی په نسبت قاضي ته راغلل، قاضي دوی دواړه دومره ترغیب او ترهیب کړل چې دواړو وژړل او په خپله خوښه یې خپل منځ کې سوله وکړه.

پر دې سربېره له خپلو پرېکړو مخکې همېشه طرفین سولې ته دعوت کړئ، د دارالحکام لیکوال لیکي: ((کله چې د پرېکړې شرایط موجود وي قاضي ته جایزه نه ده چې حکم وځنډوي، مګر په څلورو صورتونو کې، چې له دې ډلې یو یې همدا دی چې قاضي له طرفینو د سولې امید ولري. قضاوت په اصل کې یوه دیني وظیفه ده چې باید په اصولي ډول ترسره شي.))

وروسته د سترې محکمې قضائي معاون محترم شیخ محمد قاسم (راسخ) خبرې وکړې، د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضات حفظه الله د خبرو په تایید یې وویل:

- که په نړۍ کې ښه انسانان موجود وي له شک پرته هغه د علماوو ډله یعنې تاسو یاست، نو له ښو انسانانو د ښو کارونو تمه کېږي.
- په تېرو ۴۳ کلونو کې افغانستان کې انسانان مظلوم وو، له دې وروسته باید په مظلومیت کې پاتې نه شي.
- د تېرې ادارې د کارکوونکو (قضاتو او غیر قضاتو) په اړه مو څومره منفي خبرې اورېدې؛ نو موږ او تاسو باید خپلې دندې په داسې ډول ترسره کړو چې په حق کې مو دغه ډول بدې خبرې ونشي، ځکه که د یو ملت مفکوره ستاسو په تړوا منفي شي بیا یې بېرته اصلاح کول ډېر سخت دي.
- محترمو قضاتو ته د سترې محکمې لخوا په کافي اندازه معاش ورکول کېږي، باید د هغه قدر وشي او دغه نعمت په هېڅ ډول هېر نه کړي. [**وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ**].
- محترم قضات دې په ټولیزه توګه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست متحدالمآلونه په ډېر غور او دقت سره مطالعه کړي.

په پای کې د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم حقاني حفظه الله د قبالو، نکاح خطونو، وکالت خطونو د اجراء په اړه لازم توضیحات ورکړل او ناسته د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۹

### نېټه: ۱۴۴۴/۱/۲۷ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق په توسط د بعضي موضوعاتو په باره کي پرېکړه وسوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک سي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک سوه چې په هغه کي دوهمه موضوع داسي وه:

((دا چې په محاکمو کي د بعضي قضایاوو د شرعي حل او فصل کولو لپاره مدعی علیه نه خپله محکمې ته حاضرېږي او نه شرعي وکیل رااستوي متواري وي د وکیل مسخر درولو ته ضرورت وي

او کله بیا متمرد وي په داخل د هیواد یا په خارج کي وي په دغه صورت کي جبراً حاضر کړل سي او که دده له طرفه محکمه وکیل مسخر تعین کړي؟))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د دوهمي فیصلې په اساس داسي هدایت وشو: ((هغه مدعي علیه چې په داخل د هیواد کي وي، د هغوی لپاره دي وکیل مسخر نه درول کېږي محکمه دي د هري ممکني لاري کوشش وکړي تر څو دغه مدعی علیه چې په داخل د هیواد کي دی، احضار کړي.

او هغه کسان چې د هیواد څخه د باندي وي په دې صورت کي دي محاکم، د محاکمو عالي ادارې د مکتوب نمبر(۸۲ج۲) مورخ ۱۴۳۹/۹/۲۳ هـ ق چې د ځمکې د بندیدو په باره کي دی، او د مکتوب نمبر(۵۵ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۱/۱۰ هـ ق چې د وکیل مسخر د تعین په باره کي دی، اجراآت تر سره کړي او د مجلة‌الاحکام د (۱۸۳۴) مادې مطابق دي عمل وکړي.))

بناءً د یاد مجلس پورته تحریر شوې دوهمي موضوع په اړه فیصله نقلاً او په هغه کي د ذکر شوي مکتوبونو یوه یوه کاپي د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۰

### نېټه: ۱۴۴۴/۱/۲۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق په توسط د بعضي موضوعاتو په باره کي پرېکړه وسوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک سي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم مقام سره شریک سوه چې په هغه کي لومړۍ موضوع داسي وه:((په تاریخ ۱۴۴۳/۴/۲۷ هـ ق د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا هدایت شوی وو چې د اسنادو موضوع دي د علماء کرامو د شوراوو تر جوړیدو پورې معطل شي.

د پورته ذکر شوي هدایت مطابق هغه موضوعات چې پر اسنادو بناء وي او د قضیې یو جانب د خپل حق د اثبات لپاره اسناد محاکمو ته وړاندي کوي لاینحل او معطل پاته دي او مراجعین بار بار مراجعه کوي تر څو موضوعات یې حل شي، موجوده شرائطو ته په کتلو په دغسي موضوعاتو کي محاکم د مراجعینو د مشکلاتو د حل لپاره څه وکړي؟))

د موضوع په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا داسي فیصله وشوه:((اسناد چې کله محکمې ته وړاندي سوه محکمه دي د اسنادو متعلق موادو مطابق پوره تحقیق وکړي که د پوره تحقیق وروسته نوموړي اسناد د محکمې لخوا په غالب ظن د جعل او تزویر څخه خلاص وبلل سوه، اعتبار دي ورکړل سي او که مشبوه وبلل سوه اعتبار دي نه ورکول کیږي.

د اصولنامې د اسنادو په بحث کي دي د اسنادو متعلق مواد چې مشبوه او غیر مشبوه اسناد سره جلا سي او د قاضي غالب ظن د سند د مشبوهیت او غیر مشبوهیت ورڅخه پیدا سي، د ضمیمې یا تبصرې په شکل دي اضافه سي.))

بناءً د یاد مجلس پورته تحریر شوې لومړۍ موضوع په اړه فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

یادونه: د اسنادو موضوع چې د معطلاتو د قسمه څخه وه اوس د مشرتابه محترم عالي مقام د هدایت مطابق د تعطیل څخه راووتل ټول محاکم دي د دې متحدالمآل مطابق د اسنادو په باره کي شرعي او اصولي اجراآت تر سره کړي.